AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین


مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۶/۰۶/۰۲

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(اووه لسمه برخه)



(د د جورج ډبلیو بوش او جنرال پرویز مشرف یارانه)

## پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۱۳)

### د امریکایانو په یو ټیلیفون، د جنرال پرویز مشرف تسلیمي او سلامي کېدل[1]

کله چې جنرال مشرف په پاکستان کې پوځي حکومت (مارشالا) اعلان کړه نو پارلمان او اساسي قانون يې وځنډول او ځان يې د لومړي وزير (چیف ایګزیکټیو) په نوم د هېواد اصلي واکمن اعلان کړ، هغه په پوځ کې د لوړپوړو چارواکو پر ځای خپل ژمن جنرالان وګومارل.

د پاکستان د ولسمشر( رفيق تارړ) له استعفا وروسته، جنرال مشرف د ۲۰۰۱ز. کال د جون په ۲۰مه نېټه په رسمي توګه خپل ځان د پاکستان ولسمشر وټاکه.[2]

له دې سره هممهاله په افغانستان کې يو بل داسې شر پېښ شو چې د جنرال مشرف په کې خير ؤ او د هغه د واکمنۍ د ټينګښت سبب شو، لکه څرنګه چې پر افغانستان باندې د شورویانو یرغل د جنرال ضیاء د پوځي حکومت لپاره ډېر په ګټه تمام شو، همداغه شان د جنرال مشرف د حکومت لپاره پر افغانستان باندې د امریکایانو او غربیانو یرغل ډېره ګټه وکړه.

---

[1] : د دغې سرلیک لاندې یوه لیکنه، د افغانستان د جمهوریت د سقوط عوامل، د لیکنو په لړۍ کې هم لیکل شوې خو دلته د لا ډېرو مالوماتو سره یو ځل بیا لیکل کیږي.

[2]: https://books.google.com/books?id=2HdeCwAAQBAJ&pg=PA275



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د پاکستان حکومت چې د طالبانو لومړی امارت یې په رسمیت پیژندلی ؤ او له طالبانو سره یې د دوستۍ ټینګې اړیکې پاللې، دغه د دوستۍ نږدې اړیکې هغه مهال د پاکستان لهخوا په دښمنۍ بدلې شوې کله چې د ۲۰۰۱ز. کال د سپټمبر له ۱۱ مې پېښې یوه ورځ وروسته، سهار مهال د پاکستان واکمن جنرال پرویز مشرف ته، امریکایي چارواکو ټیلیفون وکړ چې جنرال مشرف په هماغه یوه ټیلیفون، د پاکستان د ولسمشرۍ د مېز تر شا، په پښو ودرید او ځایپرځای تسلیم او سلامې شو، جنرال مشرف خپله چټکه تسلیمي داسې یادوي:«د امریکا د بهرنیو چارو وزیر **(کولن پاول)** ټیلیفون کړی... پاول ډېر ساده او روښانه وویل:**«له موږ سره یاست، که زموږ پر وړاندې؟»**

مشرف زیاتوي:«دا یو ترېخ ګواښ (التیماتوم) او تهدید ؤ... هغه ته مې وویل: پاکستان د ترهګرۍ له اړخه ډېر ځوریدلی دی، په دې بنسټ **موږ به د ترهګرۍ پر وړاندې د امریکا په خوا کې ودرېږو او په ګډه به د ترهګرۍ سره وجګړېږو.»**

مشرف وایي:«په دغه ټیلیفوني اړیکه کې نور هېڅ ډول خبرې ونه شوې.»[3]

جنرال مشرف نه یوازې د کولن پاول په یوه ټیلیفون تسلیم شو، بلکې په سبا یې د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال **(ریچارډ آرمیتاژ)** ګواښونو داسې وېرولی ؤ چې له امله یې ټکان خوړلی او پښې (لېنګې) یې په لړزېدو وو، مشرف لیکي:«... آرمیتاژ د کولن پاول د خبرو په دوام په ناډیپلوماتیکو څرګندونو سره وویل:**«پاکستان باید پرېکړه وکړي چې له امریکا سره دی، که له ترهګرو سره؟ خو که د ترهګرو په خوا کې ودرید نو د داسې بمباریو په تمه دې اوسئ چې د ډبرو زمانې ته به ستون شئ!»**

نوموړی جنرال زیاتوي:**«دغه بېشرمه ګواښ ټکان ورکوونکی ؤ خو متحده ایالاتو خپل تصمیم نیولی ؤ چې جدي ځواب ورکړي.»**[4]

جنرال مشرف او اندیوالان یې چې وېرې او ترهې پسې اخیستي وو، د امریکا په یوه ګوتڅنډنه یې د طالبانو له دوستۍ څخه لاس واخیست، مشرف او نورو پخوانیو پاکستانیو چارواکو او جنرالانو چې له آره یې ځانونه د اسلام ټېکه داران بلل (له تېرو پنځو لسیزو راپدېخوا یې، له اسلام څخه د دفاع په نوم، د خپلو افغان ګوډاګیانو پر مټ افغانستان وران او ویجاړ کړ) خو په څو شیبو کې له خپل اسلامیت او انسانیت څخه داسې واوښتل، لکه هېڅکله چې مسلمانان نه وي او د حربي کفارو سره یې مټ په مټ د طالبانو د ځپلو لپاره ودریدل، په دې اړه جنرال مشرف په ډېرې بېننګۍ سره اقرار کوي لیکي:**«... نهایي پوښتنه دا وه: طالبان چې د نړۍ پر مخ تر ټولو رټل شوي (منفور) کسان دي، د طالبانو لپاره د پاکستان ورانول د هېواد په ګټه دي؟ آیا طالبان د دې ارزښت لري چې موږ د دوی لپاره ځانوژنه (انتحار) وکړو؟ ... او خپلې ملي ګټې د یو سارایي (بدوي) رژیم لپاره قرباني کړو؟ چې ژر یا وروسته له ماتې سره مخ کیږي؟»**

**مشرف خپلې پوښتنې ته ځواب ورکوي وایي:«د دې ځواب (نه) دی.»**[5]

---

[3]: پرویز مشرف: در خط آتش، مترجم: سید هارون یونسی. ۳۱۲مخ.
[4]: هماغه کتاب. ۳۱۳مخ.
[5]: هماغه کتاب. ۳۱۱ - ۳۱۶ مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

جنرال مشرف او د ده پوځي او سياسي کړۍ، د امريکا د بهرنيو چارو وزير، کولن پاول او د هغه وزارت مرسيتال، ريچارډ آرميتاژ ټيليفوني ګوتځنډنو دومره وېرولي وه چې نه يې شول کولی د پېښې په اړه د امريکا له ولسمشر جورج ډبليو بوش سره خبرې وکړي، مشرف په وېره کې ؤ چې د امريکا مرستيال وزير تر دې کچې بې‌باکه او تونديء خبرې کوي، خدای خبر چې ولسمشر بوش (چې په بدماش مشهور دی) څه وايي؟
څه موده وروسته چې جنرال مشرف امريکا ته ولاړ نو له يوې خبري رسنۍ سره په يوه مرکه کې ګيله وکړه چې موږ د امريکا چارواکو وېرولي وو چې ګواکې له داسې سختو بمباريو سره به مو مخ کړي چې د ډېرو زمانې ته به ستانه شو. د امريکا ولسمشر بوش وويل چې زه په دې نه يم خبر چې پاکستان د امريکا لهخوا وېرول شوی، بوش وايي چې ما د دغې خبر په اوريدلو سره ټکان وخوړ.[6]

امريکايانو ته د پاکستان دا ډول چټکه تسليمي «په اسلام آباد کې د طالبانو سفير، ملا عبدالسلام ضعيف وغندله، ويې ويل چې **دا د وېرې او ډار له امله له خپل (ورور) سره خيانت دی.»**[7]

همدغې جنرال مشرف چې د طالبانو تحريک يې يو بدويي رژيم بللی ؤ، د ۱۳۹۴ل. ل، کال د لړم مياشتې په ۶مه نېټه، له هندي تلويزيون (ای، بي، اين) سره په يوه مرکه کې ويلي وو چې **«طالبان او اسامه بن لادن د پاکستان له اتلانو څخه دي.»**[8]
مشرف او نورو پاکستانيو چارواکو د امريکايانو هره غوښتنه بنه په خوشالي ومنله، خپل هوايي ډګرونه او ځمکنۍ لارې او نور هر ډول امکانات يې په واک کې ورکړل.
په پاکستان کې دا مهال د القاعدې او طالبانو د نيولو او پر امريکايانو د پلورلو بنه تجارت روان ؤ چې له دې لارې يې له امريکايانو او غربيانو څخه بنې ډېرې پوځي او مالي مرستې تر لاسه کړې. (د ډېرو مالوماتو لپاره په افغان جرمن آنلاين پورتال کې، د محمد انور اخګر ليکنه: د افغانستان د جمهوريت د سقوط عوامل: د پاکستان رول، ۲ برخه ولولئ .)

بلې خوا جنرال مشرف دننه په پاکستان کې په ۲۰۰۰ز. کال کې د سترې محکمې د قاضيانو په اړه يو فرمان لاسليک کړ چې له امله يې قاضيان اړ وو بيا ځلې نوي لوړه وکړي. د۲۰۰۰ز. کال د مې په ۱۲مه نېټه، سترې محکمې له مشرف وغوښتل چې ۶ مياشتې وروسته دې، د اکتوبر په ۱۲مې نېټه، دې د پاکستان د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره کړي.[9]

مشرف د ۲۰۰۲ز. کال په اکتوبر کې پاکستان کې سراسري ټاکنې ترسره کړې چې د مشرف ملاتړې، (پاکستان مسلم ليګ ـ ق) ګوند، که څه هم، غوڅ اکثريت يې نه ؤ ترلاسه کړی، بيا هم بريالی شو، نوموړي ګوند د سختدريځو مذهبي ګوندونو له ايتلاف MMA او لبيرال ګوند (MQM) سره ګډ حکومت جوړ کړ چې دغې ايتلاف د مشرف حکومت ته مشروعيت ورکړ.

---

[6]:https://www.bbc.com/persian/worldnews/story/2006/09/060922_si-musharraf-bush
[7] : علي احمد جلالي: د افغانستان نظامي تاريخ. ژباړن: متقاعد سترجنرال شېر محمد کريمي.۴۰۵مخ
[8]: کابل، پژواک، ٦عقرب٩٤
[9]: https://archive.org/details/pakistantraditio00mumt


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولــئ

جنرال مشرف په پاکستان کې د جنرال ضیاء پر خلاف، د اسلام د سپيڅلي دين د څواکمنتيا د مخنيوي په اړه ځيني پټي او څرګندي کړني پيل کړې، هغه د بهرنيو زده‌کوونکو پر زده‌کړو محدوديتونه ولګول چې په پيل کې د مشرف دا هڅه د بشپړ بنديز په بڼه وه خو وروسته د ويزې د ترلاسه کولو محدوديتونه راکم کړای شول.[10]

که له يوې خوا جنرال مشرف په پاکستان کې د القاعدې او يو شمېر طالبانو د نيولو او ځپلو عمليات ترسره کول، بلې خوا يې له ځينو افغان طالبانو سره په افغانستان کې د امريکايي ايتلافي ځواکونو پر خلاف مرستې کولې، تر څو له امريکايانو، غربيانو او افغان حکومت سره جګړې وکړي، په داسې حال کې چې جنرال مشرف د غربيانو د ايتلاف پياوړی او ستراتيژيک غړی هم ؤ. (د جنرال مشرف د دغه منافقت په اړه په افغان جرمن آنلاين پورټال کې د دې قلم: د افغانستان جمهوريت د سقوط عوامل: د پاکستان رول، يمه۲ او ۳يمه برخه ولولئ )

**پر جنرال مشرف د موټربمونو بريدونه**

جنرال مشرف په پاکستان کې د ترهګرو د ځپلو په نوم په پښتني سيمو، په ځانګړي توګه په وزيرستان کې پوځي عمليات ترسره کول[11] چې د وسله‌والو تر څنګ يې په سلګونو عام پښتانه هم وژل نو په غبرګون کې ځايي پښتنو، له افغانستان څخه له تښتيدلو القاعدې کسانو سره د جنرال مشرف د وژلو په موخه لاس يو کړ، پر جنرال مشر يې څو ځله بريدونه وکړل چې په دغو بريدونو کې د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر د ۱۴ او ۲۵مې نېټې بريدونه تر ټول سختې چاودنې وې، په ځانګړي توګه د ډسمبر د ۲۵مې نېټې پرله‌پسې بريدونه چې د څو دقيقو په اوږدو کې تر سره شول، دا بريدونه تر ټولو خطرناک او په لوړه کچه پلان شوي بريدونه وو، د جنرال مشرف پر زغره‌وال ګاډي باندې د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر په ۱۴مه نېټه يو مرګونی بريد وشو، هغه مهال چې د جنرال مشرف د موټرو کاروان چې په راولپنډۍ کې د خپلې پوځي قرارګاه پر لور روان ؤ او د مشرف د استوګنې کور څخه يوازې د ۴۰۰ مترو په واټن، **د يو پله پر سر يوه زوروره چاودنه وشوه، د نوموړي زغره‌وال ګاډي څلور ټايرونه له منځه تللي وو خو مشرف روغ پاتې شو.**[12]

د همدې کال او همدې مياشتې په ۲۵مه نېټه، يوازې ۱۱ ورځې وروسته د جنرال مشرف پر زغره‌وال ګاډي دوه پرله‌پسې ځواکمنې چاودنې وشوې چې مشرف يې په اړه مالومات ليکلي او موږ يې ځينې اړين مالومات را اخلو. مشرف ليکي:

«د دې بريد [د ډسمبر د ۱۴مې نېټې بريد] په اړه د خلکو خبرې لا پای ته نه وې رسيدلې چې د ۲۰۰۳ز. کال د ډسمبر په ۲۵مه نېټه، د رخصتۍ پر ورځ، [زما] د ترور يوه بله هڅه وشوه. په اسلام‌آباد کې د څېړنيز مرکز په يوه غونډه کې له وينا وروسته د خپل پوځي کور (آرمي هاوس) پر لور روان شوم، د غرمې يوه بجه او پنځلس دقيقې وې. ډګروال **(الياس)** چې زما د امنيتي ډلې مشر ؤ او جګړن **(تنوير)** چې زما ځانګړی مرستيال ؤ، د کاروان په لارښوونکي موټر کې سپاره وو، د هغوی تر شا د ساتونکو موټر روان ؤ او زه له خپل پوځي منشي سره د کاروان په دريم موټر کې سپور وم. موږ له

[10]: https://www.csmonitor.com/2007/0619/p07s01-wosc.html

[11]: پرويز مشرف: در خط آتش، مترجم: سيد هارون يونسی. ۴۱۶مخ

[12]: هماغه کتاب. ۱۶مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

هماغه بدمرغه پله څخه تېر شوو، هغه پل چې د پخوانۍ چاودنې له امله تر رغونې لاندې ؤ، وروسته د سړک ښي لاس، د تېلو ټانک ته ورسېدو، د همدې ټانک مخې ته د دوه طرفه، سړک په منځ کې زموږ د موټرو د تاوېدو لپاره لاره پرانیستل شوې وه او سړک د ترافیکو پر مخ تړل شوی ؤ.
که څه هم پر سړک ټول موټر درېدلي وو، ومې لیدل چې یو سوزوکۍ موټر کوږ غوندې ولاړ ؤ، داسي ښکاریده چې غواړي د سړک له هغې غاړې دې غاړې ته راواوړي او زموږ پر لور راشي، ما مخ واړاوه او د یوه داسې کس په څېر چې کومه عجیبه او غیرعادي صحنه وینې، د خپلې ښی اوږې له پاسه مې هغه سوزوکي ته وکتل. بیا مې مخامخ پام شو، ښایي دا هر څه له یوې ثانیې هم په کم وخت کې وي.
**لا مې ېبرته مخ نه ؤ راګرځولی چې یو ډېر ځواکمن او غوړکېدونکی غږ پورته شو او زما موټر پاس هوا ته وغورځول شو.** دا مهال زما د خوښې موټرچلوونکي (جان محمد) هماغه شېبه پر بریک پښه کېښوده، ما خپله توپانچه (چې تل مې له ځان سره ساتله) راوایسته او جان محمد ته مې په اردو ژبه وویل: **دباؤ، دباؤ! یانې: پر ایکسیلیټر پښه ټینګه کړه!**
**هغه پر اکسلېټر پښه کېښوده خو لا ۹۰ متره نه وو تللي چې د تېلو یو بل ټانک ته ورسېدو، ناڅاپه یو ځل بیا یوه وېروونکې چاودنه وشوه او یو ځل بیا جهنم جوړ شو.**
لومړۍ چاودنه د موټر د شا، له ښي اړخ څخه وشوه او دا دویمه چاودنه د موټر مخ، ښي اړخ ته ترسره شوه چې یو ډېر لوی او درونږ شی د موټر پر مخکینۍ ښیښه ولګېد. زه یوه نه شوم چې هغه څه څیز ؤ خو د دغه زغره‌وال ګاډي په ښیښه کې یې یوه لویه، سوري ته ورته نښه جوړه کړه. که څه هم ښیښه یې ماته نه کړه... **یو ځل بیا موټر له سړک واوښت، بیا د انسانانو غږي، د موټرو ټوټې، دوړې او لوګي، بې‌نظمي او هر لوري ته شور او زوږ پورته شو. یو ځل بیا هوا تیاره شوه، ډېره تیاره. داسې ښکاریده لکه غرمې مهال چې نیمه شپه راغلې وي.»**[13]

مشرف زیاتوي چې «زما د موټر ټایرونه چاودلي وو او موټر پر خپلو اوسپیزو (ریمونو) روان ؤ، دا ډول موټر کولی شي پرته له ټایرونو تر ۵۰-۶۰ کیلومترو پورې مزل وکړي. جان محمد یو ځل بیا بریک ونیو او ما بیا غږ وکړ: **دباؤ، دباؤ! اکسلېټر ټینګ کړه، باید له دې ځایه ووځو!** موټر پر خپلو ریمونو باندې د ښویېدو او د (سلیپ) په حالت کې روان شو، داسې شور ترې پورته کېده لکه له ډېرو زړو ماشینونو چې آوازونه پورته کیږي. په پای کې موږ پوځي کور (آرمي هاوس) ته ورسېدو.»[14]

دلته مشرف د خپلې ښځې (صهبا) د وارخطایی او هغې ته د ډاډینې خبرې کوي... مشرف یې په دوام لیکي چې «کله مې هغه غلې کړه، بیا مې موټرو ته وکتل، ومې لیدل چې لومړنی موټر، په ځانګړي ډول د هغه مخکینی دروازه، نږدې بشپړه ویجاړه شوې وه. د موټر ټایرونه هم له منځه تللي وو او پر اوسپنیزو ریمونو ولاړ ؤ، د جګړن تنویر موټر لا هم نیغ ولاړ وو... .
**د انسانانو غوښې او وینې پر موټرو نښتې وې، یوه ډېره د کرکې او زړه بوږنوونکې صحنه وه. زما د کاروان شا ته روان موټر سخت زیانمن شوي وو. وروسته راته وویل شول چې په ټولیز ډول ۱۴ کسان وژل شوي او زموږ درې تنه امنیتي سرتېري ټپیان شوي دي.**

---

[13]: پرویز مشرف: در خط آتش، مترجم: سید هارون یونسی. ۸مخ
[14]: هماغه کتاب. ۹مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**... د پولیسو یو موټر، د دویم ځانمرګی [موټربم] مخه نیولې وه، مخکې له دې چې ځان زما موټر ته ورسوي، هغه یې درولی ؤ او د پولیسو پر موټر یې چاودنه کړې وه چې دغه د پولیسو موټر په بشپړه توګه له منځه تللی ؤ، پنځه تنه سپاره پولیس او یو تن پلټونکی افسر په کې وژل شوي وو. دا یوه ډېر دردونکې پېښه وه.** وروسته موږ ته مالومه شوه چې یو درېیم [څلورم] ځانمرګی بریدګر هم په پلان کې شامل ؤ، ټاکل شوې وه چې د سړک په پای کې مخامخ پر ما برید وکړي خو د نامالومو لاملونو له کبله هغه په خپله دنده کې بریالی نه شو... که هغه خپله دنده نه وای پرېایښې، یقیني ده چې هغه به زما په وژلو کې بریالی شوی وای، ځکه چې هغه شېبه کې زما موټر سخت زیانمن شوی ؤ او د ساتنې ډېر څه یې له منځه تللي او لوخ پاتې شوی ؤ.[15]

د پورته پېښې د بهیر په اړه د مشرف په روایتو کې ابهام شتون لري، هغه نه وایي چې دویم، درېیم او څلورم برید کوونکي موټربمونه وو که انسانبمونه او یا د سړک غاړې بمونه؟ مشرف یوازې لومړی برید موټر یاد کړی چې یو سوزکي موټربم ؤ خو ځیني نور مالومات بیا وایي چې درې واړه بریدونه موټربمونه وو او د څلورم بریدګر په اړه مالومات نه شته، کېدای شي دا د مشرف خپل خیالي انځور وي، تر څو په دې توګه، پېښه لا پسې لویه او حساسه کړي.

له پورته بریدونو وروسته پر جنرال مشرف یو بل ناکام برید د ۲۰۰۷ز. کال د جولای په ۶مه نېټه، هغه مهال ترسره شو چې کله د راولپنډۍ له هوایي ډګر څخه **د مشرف پر الوتکه د پورته کېدو پر مهال، د ۷/۶۲ ملي متري، لاسي ماشینګني ډزې وشوې.** په هغه سیمه کې امنیتي ځواکونو دوه د الوتکو ضد توپونه وموندل چې هېڅ مرمۍ نه وه ترې توغول شوې.[16]

د ۲۰۰۷ز. کال د جولای په ۱۷مه نېټه، پاکستاني پولیسو د مشرف د وژلو، د دغې هڅې سره د تړاؤ په تور ۳۹ کسان ونیول. دغه تورن کسان د پنجاب پولیسو، د فدرالي تحقیقاتي اداري (FIA) او د پاکستان د نورو استخباراتي ادارو د ګډ ټیم له خوا، په یو نامالوم ځای کې بندیان کړای شول.

پر مشرف یو بله ناکامه چاودنه هغه مهال ترسره شوه چې نومړی له څلورو کلونو وروسته پاکستان ته د ولسمشرۍ د ټاکنو په موخه راستون شوی ؤ او «په ۲۰۱۴ز. کال، د آپریل پر ۳یمه نېټه، کله چې جنرال مشرف په راولپنډۍ کې له یو پوځي روغتون څخه په اسلامآباد کې د خپل کور پر لور روان ؤ، **اسلامآباد ته څېرمه له یو پله سره نږدې، د سړکغاړې، یو چاودنه وشوه. پاکستاني پولیسو وویل چې په دغه چاودنه کې دوه کیلو ګرامه چاودیدونکي توکي کارول شوي وو او له لرې کنټرولیده.**[17] ټیټيپي یو کال وړاندې قسم کړی ؤ چې که د پاکستان پخوانی ولسمشر جنرال مشرف پاکستان ته راستون شي نو وبه یې وژني.[18] پر مشرف باندې دا بمي برید په داسې حال کې شوی دی چې جنرال مشرف د پاکستان په محاکمو کې د خو ډوله خیانتونو په تور تورن شوی دي.

---

[15]: پرویز مشرف: در خط آتش، مترجم: سید هارون یونسی. ۱۱مخ
[16]: https://www.nytimes.com/2007/07/06/world/asia/06cnd-pakistan.html
[17]: https://news.mojahedin.org/i/news/136176
[18]: https://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/pakistan/10741118/Pervez-Musharraf-escapes-assassination-bomb-attempt.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سره له دې چې جنرال مشرف ځو ځله له سختو بمي چاودنو روغ وتلی خو له هغې ورځې راپدېخوا چې هغه د افغان طالبانو پر خلاف، له امریکایانو سره یارانه جوړه کړه، یوه ورځ هم په ډاډه زړه په لاره نه دی تللی چې دا ډول دوامداره وېره په حقیقت کې د مشرف لپاره هره ورځ یو مرګ بلل کیده چې دا ډول ژوند ته ژوند نه شو ویلی ځکه چې دا داسې حالت دی چې د مرګ او ژوند په منځ کې اوسیدل دی.

مشرف د خپلو غورو په ترڅ کې په ویاړ سره وایي چې «د پشې (پیشو) په څېر ۷ ساګاني لري.»[19] سربېره پر بمي چاودنو، هغه وایي چې له دوو هوایي پېښنو هم بچ پاتې شوی دی، لومړي په کال ۱۹۷۲ز. کې هغه مهال چې له ګلګت څخه یوه الوتکه چې د اسلامآباد پر لور یې الوتنه لرله، په هغه کې سپور نه شو او هماغه الوتکه د همالیا له کوم غره سره ولګیده او ورکه هم شوه.

مشرف زیاتوي چې شوني وه له ولسمشر[؟] ضیاءالحق سره په سي – ۱۳۰ الوتکه کې سفر وکړم چې زه یې د ولسمشر د منشي په توګه ټاکلی وم خو بخت راسره یاري وکړه چې په وروستیو دقیقو کې یې یو بل افسر وګوماره.[20]

په هر حال، پوښتنه دا ده چې دغه پیچلي بریدونه د چا لهخوا او څرنګه په دومره دقیقه توګه طرحه شوي وو؟ په دې هکله به په راتلونکي لیکنه کې مالومات وړاندي کړو.



( پر جنرال مشرف، د ۲۰۱۴ز. کال د آپریل ۳مې نېټې د چاودنې انځور)

نېټه:۱۴۰۵/۳/۱۲ل. ل

**نور بیا**

---

[19]: پرویز مشرف: در خط آتش، مترجم: سید هارون یونسی.۱مخ
[20]: پرویز مشرف: در خط آتش، مترجم: سید هارون یونسی ۲مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ